بسم الله الرحمن الرحيم

## د ۱۴۴۱هـ . ق (۲۰۲۰م) کال د شوال میاشتې (هلال) د لیدو د تایید په اړه د حزب التحریر د امیر، العالم الجلیل، عطاء خلیل ابو رشته وضاحت

(ژباړه)

لومړی: تېره شپه، د شنبې شپه، د مدینې پر وخت د شپې شاوخوا ۱۰ بجې مو دا خبره درورسوله چې نوې میاشت نن شپه نه ده لیدل شوې، دا خبره مو د هغو رپوټونو پر اساس کړې وه چې موږ تر لاسه کړي وو. موږ معمولاً، د مدینې پر وخت د شپې له لسو یا لس نیمو بجو مخکې د میاشتې لیدو په اړه پر خبرو تکیه نه کوو، د دې لپاره چې په ختیځ کې خپلو ورونو ته په خبر رسولو کې ناوخته نه کړو. ځکه خو دوی – د اندونیزیا غونډې سیمو اوسېدونکو- ته خبر د فجر له اذان مخکې رسېږي. نو خبر داسې جوړ شو چې شنبه، د ۲۰۲۰م کال د مې میاشتې ۲۳مه د روژې مبارکې میاشتې وروستۍ ورځ او یکشنبه، د ۲۰۲۰م کال د مې میاشتې ۲۴مه د کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.

دویم: بیا موږ ته خبر راورسېد چې په تانزانیا کې درېیو مسلمانانو نوې میاشت لیدلې، همداراز په افریقا کې نور شاهدان هم وو... نو هلته مو خپل استازي ته خبر واستاوه چې د موضوع د روښانه کولو لپاره دوه کسان هغو کسانو ته ورواستوي چې نوې میاشت یې لیدلې. ده همدا کار وکړ او موږ ته یې لاندې پیغام راواستاوه:

« ۵. درېیو شاهدانو یوه ډېره نرۍ نوې میاشت لیدلې چې د لمر لوېدو خواته یې د لیندۍ بڼه غوره کړې وه.

٦. دغو شاهدانو زموږ د درېیو شبابو پر وړاندې قسم خوړلی او شهادت یې ورکړی».

درېیم: موږ ته مو د استازي پیغام د مدینې پر وخت له غرمې وروسته یوه بجه راورسېد. دا په دې معنی ده چې د نوې میاشتې لیدل سم وو او د دغې نوې میاشتې خم کېدل (د لیندۍ بڼه غوره کول) د لمر لوېدو لوري ته وو. دا په دې معنی ده چې لیدل شوې شی، د شوال نوې میاشت وه، په دې اړه درېیو مسلمانانو شهادت ورکړی.

څلورم: د موضوع له څېړنې وروسته، د پیغمبر د هغه حدیث پر بنسټ چې امام احمد روایت کړی،

**غُمَّ عَلَيْنَا هِلَالُ شَوَّالٍ فَأَصْبَحْنَا صِيَامًا فَجَاءَ رَكْبٌ مِنْ آخِرِ النَّهَارِ فَشَهِدُوا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ رَأَوْا الْهِلَالَ بِالْأَمْسِ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُفْطِرُوا مِنْ يَوْمِهِمْ وَأَنْ يَخْرُجُوا لِعِيدِهِمْ مِنْ الْغَدِ "**

ژباړه: د شوال هلال د ليدو امکان نه وو ځکه چې وربځ وه نو موږ پشلمی وکړ. وروسته د ورځې په پای کې پر اس سواره کسان راغلل  او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور يې شاهدي ورکړه چې پرون يې د نوې مياشتې هلال ليدلی. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې دوی (مسلمانان) دې په نيمه ورځ کې روژه ماته کړي او سبا دې اختر ولمانځي.

او د هغه حديث پر اساس چې بهقي په سنن الکبرا کې د پيغمبر صلي الله عليه وسلم له نيږدې کس،  ربي بن حيراش څخه روايت کړی،

**اخْتَلَفَ النَّاسُ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ فَقَدِمَ أَعْرَابِيَّانِ فَشَهِدَا عِنْدَ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- بِاللَّهِ لأَهَلاَّ الْهِلاَلَ أَمْسِ عَشِيَّةً فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- النَّاسَ أَنْ يُفْطِرُوا وَأَنْ يَغْدُوا إِلَى مُصَلاَّهُمْ "**

ژباړه: د خلکو تر منځ د رمضان د اخرې ورځې په هکله اختلاف و. يو عرب مخکې شو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور يې د پرون شپې د هلال په هکله شهادت ورکړ او پر الله يې قسم ياد کړ. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته امر وکړ چې روژه ماته کړي او خپل لمونځ وکړي.

او د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د بېلګې په تعقيبولو، نن شنبه، د ۲۰۲۰م کال د مې مياشتې ۲۳مه د کوچني اختر لومړۍ ورځ وه ... مسلمانان دې ورژه ماته کړي او دا چې وخت له زوال تېر دی، د اختر لمونځ دې سبا وکړي... خدای دې زموږ روژه او قيام قبول کړي، خدای دې دا مبارکه مياشت د ټولو مسلمانانو په خير کړي. خدای خو دې مسلمانانو ته د دوی خلافت تاسيس کړي او له هرې وبا دې يې په امن کړي، په دې توګه به دوی په دنيا او اخرت کې ارام وي، الله ډېر ببښونکی دی، الله العظيم دی.

الله سبحانه و تعالی خو دې زموږ طاعات قبول کړي، ټوله ستاينه د رب العالمين لپاره ده.

**اسلام عليکم ورحمة الله و برکاته**

**ستاسو ورور**

**عطاء خليل ابو رشته**

**د حزب التحرير امير**

د کوچني اختر ورځ، د ۱۴۴۱هـ ق کال د شوال مياشتې لومړۍ نېټه

۲۰۲۰م کال د مې میاشتې ۲۳مه